## د خوشال کرکه له خټکو

لیکنه : ضیاء الحق سیند

خوشال خان خټک د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی ، چې په ۱۰۲۲ س ل کال په اکوړه خټک کې د دې دنیا ته سترګې پرانستې دي ، څنګه چې د نومړي د نوم له روستاړي څخه هم څرګندېږي ،چې په قوم خټک دی او خټک د پښتنو یوه ستره توریالۍ قبیله ده ، خو خوشال خټک ځای ځای په خپل دېوان کې د خټکو له نامۍ سره کرکه ښودلې ده ، ما خپله د خوشال خټک دېوان بیا بیا لوستی دی ، نومړی د ټولو پښتنو نه ګیله من ښکاري خو په ځانګړي ډول د خټکو او یوسفزیو نوم بیا بیا په بدو ټکو را اخلي ، هغه ځکه چې یادونه د هغه چا کېږي ، چې هغه یو څوک وي ، خټک له نومړي یو ځای خورا زیات اوسیدل او خورا ځواک خاوندان ول ،خو هغه وخت د لنډي د سیند د غاړې خټک د اکوړه خټک د سرای اوسیدونکي په دوه ډلو وېشل شوي وو ، څه د خوشال تر شا او څه نور هم د مغلو د نوکر د خوشال خټک د زوی بهرام خان تر شا ولاړ وو ، نو خوشال خان د مجبورۍ له امله خټک په بد نوم یادول ، ان تر دې چې د خپل ځان نه یې په دې کرکه په دې راغلې ،چې دی هم خټک دی او په دې اړه وایي:

د خټکــو حقیقت را ته ښــکاره شــو
زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک یم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

او بل ځای د خټکو له نوم څخه انکار کوي ، او له ټولو خټکو څخه نا خوښه ښکاري او توبه ګار دی

د خټکو نامې هو سره زړه خو بل دی
چې تــوبه د همــګي خټک له نامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

د خوشال خان کورنۍ پلار تر پلاره د خټکو خانان او مشران پاتې شوي وو ، خو کله چې خوشال د مغلو خلاف شو ، نو هغه خاني ملکي هر څه تري پاتې شول ، د افغان په نامه یې توره تر ملا کړه او پښتنه مېړانه او ننګ یې مله وو ، خوشال خان په خپل قوم د هیڅ ډول مرستې سپمی نه و کړی ، نو ځکه ترې ګیله من ښکاري.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نعمت په قــدر هیڅ خــــبردار نه دي

نوم خټک به مې خلاص نه وي له انعامه

(دیوان، ۶۰۳مخ)

بل ځای بیا نومړی د خټکو په لیکه کې د پښتنو دوه نور درانه او ستر قومونه (بنګښ او ورکزي) هم ورګډوي او د دې درې واړو په کورونو یو ځای د ماتمونو غوښتنه کوي.

که خټک دی که بنګښ که ورکزی دی

وار په وار یې په کــور وشه ماتــمونه

(دیوان،۵۵۵مخ)

بل ځای بیا یوسفزي تر سپیو بدتر ګڼي، هغه داسې چې یو ځل خټک تر سپو بېکاره ښیي او د خټکو سپي تر یوسفزیو بهتر ګڼي، او وایي:

د خټکــو سپي بهتـــر تر یوسفـــزیو

که خټک دی هم په خوی تر سپي بېکاره

(دیوان، ۵۵۵مخ)

او په اخره کې وایي :

که خټکو راته شا کـړه مخ یې تور شه

زه یوازې په تکیه د خدای شیرک یم

(دیوان، ۵۷۹مخ)

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه : د پښتنو ټول قومونه په ننګ ، پت ، مینه او ښېرازۍ کې یو له بله کم نه دي او هر یو ځان ځان ته ځانګړی مقام لري ، دا د خوشال خان خټک د خولې خبرې دي ، زما نه دي ، کېدای شي ، چې د نورو قومونو په کمو بدو بد ترې راغلي وي دا د هغه خپل کار دی ، خو زه په خپله ټول قومونه په یوه سترګه ګورم، هیله مند یم، چې څوک له ما څخه نا خوښه شوي نه وي.

په درنښت

ستاسو ورور : ضیاءالحق سیند

پته: بغلان ولایت ، پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري زرغونه سیمه

۱۳/ ۱۱/ ۱۳۹۴

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library